**ولې امریکا او ناټو له افغانستانه د نظامي دهلېز په توګه ګټه اخلي!؟**



**خبر:**

د افغانستان دفاع وزارت وايي، داعش او نورې تروریستي ډلې تل هڅه کوي، چې د خپل فعالیت لمن پراخه کړي او سیمه او نړۍ وګواښي. تر دې وړاندې د بریتانیا د دفاع وزیر افغانستان ته د خپل سفر پر مهال ویلي وو، چې تروریستي ډلو له دغه هېواده بریتانیا او نورو اروپايي هېوادونو ته ګواښونه متوجه کړي. همدارنګه جنرال سکاټ مېلر هم په کابل کې له جنرال نېکلسن نه د پرېکنده ملاتړ ماموریت د قوماندانۍ د سپارلو په مراسمو کې وویل: «پر تروریستانو فشار باید دوام ولري او دا یقیني شي، چې هغوی د نړۍ د ګواښولو په خاطر له افغانستانه ګټه نه اخلي.» له بل پلوه حمدالله محب د افغانستان د ملي امنیت شورا رییس په همدغو مراسمو کې مېلر ته په خطاب کې وویل: «جنرال مېلر! موږ د بیان ازادۍ لپاره او د بې عدالتۍ پر ضد له تاسو سره اوږه په اوږه د دښمنانو پر وړاندې ولاړ یو، موږ به په ګډه په افغانستان او سیمه کې تروریزم له منځه یوسو.» (سرچینه: آزادي راديو: https://da.azadiradio.com/a/29469008.html )

**تبصره:**

څومره عجیبه ده چې لاسپوڅي غلامان او باداران یې یو ځای په افغانستان کې د جګړې د دوام لپاره ډول ډول توجیهات وړاندې کوي. مګر د عامه افکارو د غولولو لپاره یې له طالبانو سره د سولې شعار او د پارلماني، ولایتي شوراګانو، ولسوالیو او حتی د ولسمشرۍ ټاکنې فضا کړې دي.

په داسې حال کې، چې د افغانستان په اړه د ټرمپ له ستراتیژۍ شاوخوا یو کال تېرېږي او د افغانستان خلک د بمباریو، د بې پیلوټه الوتکو د راکټونو او د خلکو د هدفمن ترور له زیاتوالي پرته بل څه نه دي تجربه کړي. د دې ستراتیژۍ له امله د ملکي تلفاتو شمېرې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې دي. یوازې په اګېسټ میاشت کې ۸۰۰ کسان وژل شوي او ټپي شوي، چې دا شمېره تر جولای لوړه او له تېرو کلونو سره اصلاً د پرتلې وړ نه ده. همدارنګه د تېر یوه کال په جریان کې اشغالګرو ځواکونو د بمونو د مور په ګډون تر ۵۰۰۰ زیات بمونه د افغانستان پر مسلمانو خلکو استعمال کړي. دا ټول وحشت په دې معنی دی چې امریکا او ناټو په دې قضیه کې په خپل ټول توان د سیمې له مسلمانانو او د چین او روسیې له استعمار سره ښکېله شوې او په دې وروستیو کې امنیتي استخباراتي کمپنیو لکه بلک واټر ته د افغانستان د جګړې سپارلو بحث هم د سپینې ماڼۍ او د امریکا د کانګرېس پر مېز پروت دی، ترڅو هغه نیمګړتیاوې چې د امریکا له تروریستي او استعماري نظره په دې جګړه کې شته، د دغو قاتلو او اجیرو کمپنیو په وسیله بشپړې کړي.

که څه هم د امریکا او ناټو سیاستوال او نظامیان وسله والې ډلې د توجیه او پلمې په توګه کاروي، خو کله کله په ښکاره له خپلو شومو موخو پرده پورته کوي. لکه څنګه چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو او پرېکنده ملاتړ ماموریت پخوانی قوماندان جنرال جان نېکلسن امریکا غږ ته وویل: «موږ پوهېږو چې روسیه هڅه کوي، چې نظامي لاسته راوړنې او په افغانستان کې د نظامي پرمختګ کلونه راکم کړي.» ده زیاته کړه: «دا پټه نه ده، چې روسیه د داسې یوه فرصت په لټه کې ده، چې وکولی شي د امریکا او افغانستان په ګډون د مرکزي اسیا د شریکانو تر منځ واټن رامنځته کړي.» تر دې وړاندې امریکا په ځلونو روسي چارواکي تورن کړي، چې طالبانو ته جنګي وسایل چمتو کوي؛ خو دا تور روسیې تل رد کړی؛ مګر له طالبانو سره یې له سیاسي اړیکو لرلو انکار نه دی کړی.

نو وسله والې ډلې صرف توجیه او پلمه ده، اصلاً امریکا او ناټو په سیمه کې د مسلمانانو د واقعي دولت د ظهور د مخنیوي، د چین او روسیې د محاصرې، د افغانستان او مرکزي اسیا د نورو هېوادونو د منابعو د استعمار لپاره افغانستان اشغال کړی او د خپل نظامي او سیاسي شتون لپاره د هغو ګواښونو د تقویې او نوي کولو په لټه کې ده، کوم چې د ځینو مخالفو وسله والو ډلو له لوري ورته متوجې دي. له همدې امله په دې وروستیو کې په افغانستان کې د پرېکنده ملاتړ ماموریت قوماندان سکاټ مېلر د افغانستان په ختیځ کې د یوه افغان سرتېري له خوا د یوه امریکایي سرتېري وژنه او د یوه بل ټیپي کېدل تراژیدي وګڼله او ویې ویل چې دا سرتېري د خپل هېواد د ساتنې لپاره افغانستان ته راغلي وو. په داسې حال کې چې د هېواد ساتنه هغه توجیه ده، چې د امریکا او غرب ملتونه ورباندې غولوي، په اصل کې د امریکا دولت د افغانستان د اشغال د دوام او د افغانستان په ګډون د مرکزي اسیا هېوادونو د استعمار لپاره افغانستان ته راغلی او بس.

دا په داسې حال کې ده، چې ټاکل شوې وه، روسیه د سپټمبر په څلورمه د افغانستان، طالبانو، امریکا او ځینو نورو هېوادونو په ګډون د سولې په موخه د یوې ناستې کوربه توب وکړي؛ خو دا ناسته له هغه وروسته وځنډېده چې اشرف غني پکې د ګډون لپاره د روسیې بلنه رد کړه.

امریکا د افغانستان له ۱۸ کلن اشغال وروسته ظاهراً اوس هم ځان له «ترووریزم» سره د جګړې د مسیر په پیل کې اعلانوي؛ ځکه د ډیموکراتیکو ټاکنو پروسه په بشپړه توګه په یوه رسوایۍ بدله شوې. تر نیمایي زیاته خاوره د طالبانو په لاس کې ده. د سولې پروسه یوازې په نامه او تشو تبلیغاتو مخ ته ځي. د افغانستان متنفذ قشر په ټولیز ډول د اشرف غني د حکومت له بهیره او په حکومتولۍ کې د امریکایي اصلاحاتو له سیاستونو تر پوزې راغلي او هره ورځ غوغاوې جوړوي او د دربیم بن، لویې جرګې او موقت حکومت په څېر ناکامې حللارې وړاندې کوي، ترڅو له طالبانو سره د سولې پروسه او په اساسي قانون کې د بدلون پروسه عملي کړي او یا هم داسې حکومت رامنځته کړي، چې د سالمو انتخاباتو سرپرستي پر غاړه واخلي. په داسې حال کې چې نشه‌يي توکي، فساد، بېکاري، فقر، ناامني، اختطاف او فحشا په ټولنه کې تر بل هر وخت لوړې کچې ته رسېدلي.

امریکا ښایي ځینې طالبان د سولې پروسې ته اړ کړي، مګر یو شمېر نور به جداً جګړې ته دوام ورکړي. امریکایان او دولت په افغانستان کې د داعش فعالیتونه په لوی لاس ستر ښیي او حتی افغانستان ته د القاعدې د بیا راتګ خبرې هم کوي. له همدې امله امریکا او ناټو اوس هم هماغه ساز غږوي، کوم یې چې په ۲۰۰۱م کې غږاوه. نو د افغانستان اوضاع په سیمه کې د امریکا او ناټو د جنګي پروژې، د نشه‌يي توکو د کروندې، د مرکزي اسیا هېوادونو په لور د نظامي دهلېز او د امریکا، چین او روسیې د نفوذ د تقاطع له ټکي پرته بل څه نه شي پیش بیني کېدلی.

له همدې امله د افغانستان خلک هېڅکله نه شي کولی چې د روان اشغال د ترور او وحشت تر سیوري لاندې خپلو موخو او آرزوګانو لکه سولې، امنیت، سوکالۍ، عدالت او ازادۍ ته ورسېږي. نو په افغانستان کې د امریکایي نظام وسله‌وال او سیاسي مخالفین چې ځینې مخلص مسلمانان دي او ځینې نور ځانونه اسلام ته منسوبوي، باید درک کړي چې د اسلام پر بنسټ له سیاسي پوهې او چلند پرته یوازې د جګړې او پراګماتیکو سیاستونو په وسیله پر غربي اشغال او استعمار برې نه شي موندلی. له همدې امله باید یو بل ته لاس ورکړي او د ژور او مستنیر (هراړخیزه روښانه) فکر کولو لپاره سر لږ څه ګرېوان ته کښته کړي، ترڅو د پراګماتیکو سیاستونو پر ځای پر ایډیولوژیکو اسلامي حللارو منګولې ولګوي. لومړی له امریکا او ناټو سره ستراتیژیک او امنیتي تړونونه لغوه کړي، بیا یوازې د اسلامي امت د مشروعو سرچینو په وسیله

د اشغال او استعمار پر وړاندې مبارزه وکړي او د سیمې له مسلمانانو سره یو ځای داسې اسلامي دولت تاسیس کړي، چې اساس یې اسلامي عقیده او حلالرې یې یوازې له قرآن او سنتو استنباط شوې وي. هغه مهال بیا کولای شو د الله سبحانه وتعالی دین او د نړۍ مظلومو مسلمانانو ته نصرت ورکړو او په بدل کې به یې الله سبحانه وتعالی موږ ته نصرت راکړي. لکه څنګه چې فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾** [محمد: ٧]

***ژباړه:*** *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! که د الله له دین سره مرسته وکړئ، نو هغه به له تاسو سره مرسته وکړي او قدمونه به مو ثابت کړي.*

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**